## د مقالو سپارل، تائید او ارایه

**د کلیوالي سیمو پرمختګ ملي کنفرانس لپاره د مقاله لیکلو لارښود**

**سرلیک** (په ۱ یا هم ۲ کرښو کې کې دې ترتیب شي، فونټ**(Bahij Titr 14 pt)**


**لومړی لیکوال، دوهم لیکوال**، ... **(Bahij Zar 14 pt, Bold)**

**۱- د لومړي لیکوال دنده (Bahij Zar 12 pt, Bold)**

**۲- د دوهم لیکوال دنده (Bahij Zar 12 pt, Bold)**

Email: (Times 10 pt)


**لنډیز**

**اړینې یادونې:**

- ښاغلیو څېړونکو، د وخت د سپما او ژغورنې په موخه غوره ده، چې خپله مقاله په دې فارمټ کې ځای په ځای کړئ.
- ښاغلیو څېړونکو، په دې کنفرانس کې ستاسو د وخت د سپما او ژغورنې په خاطر د مقالو لنډیز او اصل په عین وخت کې تر لاسه کیږي.

مهرباني وکړئ، د هرې مقالې د ثبت او استولو څخه مخکې لاندې ټکو ته په غور پاملرنه وکړئ:
۱- لومړی د مقالې لیکلو لارښود تر لاسه کړئ او خپله مقاله د یاد لارښود مطابق چمتو کړئ. ۲- بیا په لارښود کې د شته جدول له مخې (د مقالو په بیلابیلو برخو کې د فونټونو کارولو لارښود) د خپلې مقالې متن تنظیم کړئ. ۳- دا اړینه ده چې د لیکوال معلومات (د لیکوال د معلوماتو فایل: په شمول د مقالې سرلیک + د لیکوال معلومات + بریښنالیک پته + د لیکوال د دندې توضیحات) شتون ولري. همدارنګه اصلي مقاله کې (د اصلي مقالې فایل: د مقالې سرلیک + لنډیز + سریزه + د څېړنې میتودولوژي + موندنې او بحث + نتیجه ګیري + منابع) د word په بڼه زیرمه شي. ۴- د مهربانی له مخې اصل مقاله د word په بڼه را واستوئ.

د هرې مقالې لنډیز باید له ۱۵۰ څخه تر ۲۰۰ کلمو زیات نه شي. په لنډیز کې باید د مقالې ټولې برخې په یوه پاراګراف کې ولیکل شي. په لنډیز کې باید د کار موخه، د استفادې وړ میتودونه او تر لاسه شوې پایلې په لنډو ټکو کې بیان شي. په لنډیز کې دې د یوې مقالې ټولې برخې په یوه پاراګراف کې ولیکل شي. په لنډیز کې باید ستاسو د کار موخه، د استفادي وړ میتودونه او تر لاسه شوې پایله په لنډو ټکو کې توصیف شي. په لنډیز کې باید ناڅرګندې نښې یا اخځونه شتون ونه لري.

**کلیدي کلمې:** د دری او پنځو کلمو تر منځ باید وي، او د کامې په مټ سره بیلې شوې وي. د الفباء د تورو په اساس دې ترتیب شي. ( **(Bahij Zar 12pt Bold**

**۱- سریزه** (د خلاصې له پاڼې څخه وروسته پیل کیږي)

په دې برخه کې د مسئلې بیان، ارزښت او اړتیا، تیرو څېړنو ته لنډه کتنه، د څېړنې موخې، د څېړنې پوښتنې او جمع بندي ګډون لري. د دې تکو مراعاتول د ټولو محترمو لیکوالانو لپاره اړین دي. مقالې متن باید په (Bahij Zar 12) فونټ کې ولیکل شی. د مقالو کرښې باید په یوه فاصله چې کینه حاشیه ۲،۵ سانتی متره، پورته ۳ سانتی متره، ښی ۲،۵ سانتی متره او ښکته خواته ۲،۵ سانتی متره واټن ولری.

## ۲- د څېړنې میتودولوژي

په دغه برخه کې هغه طریقې او میتودونه باید ځای په ځای شي، چې په څېړنه کې ور څخه ګټه اخیستل شوې وي.

### ۲-۱. د مطالعې وړ ساحه

په دې برخه کې باید د مطالعې وړ ساحې اړونده معلومات ارایه شي، چې دا څېړنه چېرته تر سره شوې دی او د یادې ساحې ځانګړتیاوې لکه (نفوس، جغرافیایي موقعیت، عمده محصولات، د وګړو شغل او اقتصادي وضعیت او نور) روښانه شي.

### ۲-۲. د ډیټا راټولو میتود

په دې برخه کې دې د ډیټا راټولولو میتود واضح شي. همدارنګه د نمونې حجم دې هم واضح شي.

### ۲-۳. د ډیټا تحلیل

په کیفي او کمي څېړنو کې د ډیټا د تحلیل لپاره رنګا رنګ سافټویزونه شتون لري. نو بناءً په دې برخه کې دې له هغو سافټویرونو څخه یادونه وشي، چې په څېړنه کې د ډیټا د تحلیل لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي. اړینه نه دی، چې د ډیټا په تحلیل کې به حتمي له سافټویر څخه ګټه اخیستل کیږي، دا د څېړنې ډول ته توپیر لري.

## ۳- موندنې


**جدول:** په څېړنه کې د شته جدولونو عنوانونه باید د جدول په سر ولیکل شي. هڅه دې وشي، چې جدول په دوو مخونو باندې نه وي وېشل شوی. د جدول ګڼه او منبع باید څرګنده وي. په غوره توګه د جدول لیکلو لپاره لاندې بېلګې ته پاملرنه وکړئ.

**جدول (۱): د هغو وکړو ځانګړتیاوې، چې مرکې ورسره شوې دي**

| ګڼه | د مرکې ځای | د مرکو شمېر | په مرکو کې د وګړو شمېر | د مرکو اوسط وخت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | حکیم خان کلا | ٦ | ۵۱ | ۲۵ دقیقه |
| ۲ | غلام صدیق کلا | ۳ | ۲۸ | ۳۳ دقیقه |
| ۳ | چهارخانه | ٤ | ٤۸ | ۳۵ دقیقه |
| ٤ | پورته ټنګی | ٤ | ۳۸ | ۲۸ دقیقه |
| ۵ | اکاخیل | ۲ | ۱۸ | ۳۸ دقیقه |
| ٦ | حاجي کلا | ٤ | ٤۱ | ۲۵ دقیقه |

منبع او تشریحات

**انځور:** انځورنه باید غوره کیفیت ولري، روښانه او په غوره توګه انځور شوی وي. د انځور ګڼه او منبع باید څرګنده وي. په غوره توګه د انځور راوړلو لپاره لاندې بېلګې ته پاملرنه وکړئ.




**انځور** (۱)**:** د غزني ولایت جغرافیایي نقشه

**سرچینه:** د GIS په مټ ترسیم شوی دی.

**معادلې او رابطې**: ټولې معادلې باید منظمې او شمېره ولري. د معادلاتو شمېرې باید د قوسونو په منځ کې ښی اړخ ته د لومړی معادلې په شکل ولیکل شی. د معادلې د لیکلو لپاره د معادلو له سافټویر یا ایډیټور کار واخلئ. یوه ساده معادله دلته کتلای شی.

حجم = مساحت * ارتفاع (۱)

$$A = R \times K \times L \times S \times C \times P \quad (2)$$

**سمبولونه:** د معادلاتو هر ډول سیمبولونه باید د معادلی لاندې تعریف شی.

**مخففات:** کله چې په لومړی ځل مخففات لیکئ باید توضیح یې کړئ.

### ۴- بحث او مناقشه

په دې برخه کې دې د څېړنې پایلې د ورته تر سره شویو څېړنو له پایلو سره پرتله شي.

### ۵- پایله اخیستنه

په پایله اخیستنه کې باید د ټولې مقالې لنډیز په څرگند او خلص ډول ولیکل شي. په نتیجه گیري کې باید منابع ذکر نه شي. د دې تر څنگ په پایله اخیستنه کې باید په څېړنه کې شته پوښتنو ته ځوابونه وویل شي.

### ٦- وړاندیزونه

د څېړنې موندنو ته په پام سره باید وړاندیزونه ارایه شي.

### ۷- کور ودانی (اختیاري)

له هغه چا څخه مننه کول، چې ستاسو سره یې په څېړنه کې مرسته او همکاري کړې وي.

### ۹. اخځونه

د اخځونو په لیکلو کې باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

- هڅه دې وشي، چې له معتبرو او نویو منابعو څخه گټه واخیستل شي.
- د اخځونو د لیکلو لپاره دې د (APA) له سټایل څخه استفاده وشي.
- د منابعو شمېر لږ تر لږه باید له ۱۵ څخه کم نه وي.
- په لومړیو کې دې د پښتو او دري اخځونه او بیا دې د انگلیسي ماخذونه راوړل شي، همدارنگه ماخذونه باید د الفباء د تورو په اساس ترتیب شي.

**د متن په داخل او د متن په پای کې حوالې (Citation) په لاندې توګه راوړل کیږي:**

۱) د متن په داخل کې د حوالې ورکولو قواعد

- د متن په داخل کې د یوې مقالې حواله په لاندې توګه ورکوو:

(د لیکوال تخلص، کامه، د نشر کال). لکه (احمد، ۱۴۰۲).

- مګر د انټرنیټي منابعو د پاڼو یادولو ته اړتیا نشته. د لیکوال نوم او د نشر کال بسنه کوي. لکه (د احصایې ملي اداره، ۱۴۰۳).
- که چېرته د لیکوالانو شمېر له دوو تنو څخه زیات وي، نو یوازې د لومړي لیکوال تخلص او د «ملګرو» کلمه ذکر شي. لکه (احمد او ملګري، ۱۴۰۳).
- که چېرته په متن کې له یوې منبع څخه د ډېرو حواله راوړل شي، نو د لیکوالانو نومونه او د نشر کال د ویرګول په مټ سره بیلیږي. لکه: (احمد، ۱۳۹۹؛ عبیده، ۱۴۰۰؛ مجیب او ملګري، ۱۴۰۳).
- که چېرته د یوه لیکوال د څو اثارو حواله ورکول کیږي، نو د لیکوال د نوم او نشر له کال څخه وروسته، نور کلونه د ویرګول د نقطې په واسطه بیلیږي. لکه: (حافظ، ۱۳۹۹؛۱۴۰۰؛۱۴۰۰۱). عین کال
- هغه کتابونه، چې په پښتو یا هم دري ژبه ژباړل شوي وي، د ژباړونکي نوم د متن په داخلي حواله کې نه راوړل کیږي او یوازې د اصلي لیکوال تخلص د نشر له کال سره یو ځای راوړل کیږي. لکه (استراوس او کوربین، ۱۹۹۹).

**د مقالې په پای کې ماخذ لیکلو طرز**

**که چېرته یو لیکوال وي:**

تخلص، د نوم لومړی توری. (چاپ کال). د کتاب نوم. چاپ ځای: مطبعه

**که یې لیکوالان دری وي:**

تخلص، د نوم لومړی توری.، تخلص، د نوم لومړی توری او تخلص، د نوم لومړی توری.(چاپ کال). د کتاب نوم. د چاپ ځای: مطبعه

**او که مقاله وي:**

تخلص، د نوم لومړی توری (نشر کال). د مقالې عنوان. د مجلې نوم. دوره، شماره، پاڼې. د DOI لینک


۱. میانی، ع، & کرمی دهکردی، م. (۲۰۲٤). تبیین عوامل علی مؤثر بر تحقق معیشت پایدار مناطق روستایی کشور افغانستان (مورد مطالعه: روستاهای شمالی شهرستان اندر). *فصلنامه اقتصاد فضا و توسعه روستایی*, ۱۲ (٤٦), ۱۱۹-۱۳۲. http://serd.khu.ac.ir/article-1-4010-fa.html

1. Miani, A. M., Dehkordi, M. K., Siamian, N., Lassois, L., Tan, R., & Azadi, H. (2023). Toward sustainable rural livelihoods approach: Application of grounded theory in Ghazni province, Afghanistan. *Applied Geography*, *154*, 102915. https://doi.org/10.1016/j.apgeog.2023.102915
2. Zarpelão, B. B., Miani, R. S., Kawakani, C. T., & de Alvarenga, S. C. (2017). A survey of intrusion detection in Internet of Things. *Journal of Network and Computer Applications*, *84*, 25-37.
3. Blanchini, F., & Miani, S. (2008). *Set-theoretic methods in control* (Vol. 78). Boston: Birkhäuser.

| د مقالې برخې | فونټ |
|---|---|
| د مقالې عنوان | Bahij Titr 14 pt Bold |
| د ليکوال/ليکوالانو نوم | B Zar 14 pt, Bold |
| د ليکوال/ليکوالانو دندې | B Zar 12 pt, Bold |
| **Email** | Times 10 pt |
| اصلي عنوانونه | B Titr 12pt, Bold |
| فرعي عنوانونه | B Titr 11pt, Bold |
| کليدي کلمې | B Zar 12pt Bold |
| انډنوټ | B Zar 9pt |
| معادلې او رابطې | Times New Roman 10pt |
| د انځورونو او جدولونو عنوانونه | B Zar 9pt Bold |
| انګليسي ماخدونه | Times New Roman 12pt Italic |
| پښتو/دري ماخدونه | B Zar 11pt Bold |

| **د مقالې په ليکلو کې اصلي عنوانونه** |
|---|
| عنوان مقاله |
| لنډيز |
| کليدي کليمې |
| سريزه |
| د څېړنې ميتودولوژي |
| بحث او مناقشه |
| وړانديزونه |
| ماخذونه |